د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد
د موضوعي خپرونو لړۍ

# په ۱۱۰۲-۲۱۰۲ کلونو کې د بلخ او بدخشان ولایتونه یو څه له کوکنارو پاک او ځینې کروندې یې ویجاړ شوې دي



European Union

۱۲ کاله
باکیفیته څېړنه

د افغانستان
د څېړنې بنه
لپاره
AREU

ژباړن: ایمل پسرلی

طرح او دیزاین: احمد سیر علمیار

د خپرونی کود: ۱۳۰۵P

© ۱۳۹۳ د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد. ټینې حقونه خوندي دي. دا خپرونه ښایي بیا ځلي تولید، آرشیف او د غیر اقتصادي موخو لپاره ولېږل شي، چې په دې صورت کې یې د لیکلو اعتبار په لیکوال پورې اړه لري. که دا خپرونه بیا ځلي تولید، ذخیره یا د وېبپاڼې له لارې خپرېږي، د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد ویبپاڼه www.areu.org.af باید ورسره وي. د موادو د کاپي کولو لپآره باید د خپرندویه مرکز لیکلي اجازه واخیستل شي. په لاندې برېښنا لیک او ټلیفون لیکلي اجازه ترلاسه کولی شي.

## د لیکوال په اړه

پاول فیشستین (د کرهنې او سرچینو په اقتصاد کې ماسټر) د افغانستان د څېړنې او ارزونې د څانګې مخکینی مشر دی، دی له ۱۹۷۷ کال راهیسې د افغانستان تجربه لري. دم ګړی خپلواک سلاکار دی.

## مننې

لیکوال غواړي له بېل بایرډ، انتوني فیتزبیرت او دیوید منسفیلډ نه د دې مقالې پر یوه متن د دوی د ګټورو نظرونو منه وکړي. دی له دیوید منسفیلډ نه پر لومړنیو متنونو باندې د زیاتونې او شننې منه هم کوي، د دوامداره پرمختیا او څېړنې د ټولنې د دفتر او ساحې له کارکوونکو هم منه چې شننه یې وکړه او نظر یې ورکړ او د السیس شرکت له ریچرډ بریټین او دیلیپ واګ څخه هم منندوی دی چې نقشې یې تولید کړې. په فیض آباد کې د اغا خان د پرمختیایي شبکې له کارکوونکو هم منه چې استوګن ځای او د بدخشان په باب یې معلومات راکړل.

پاول فیشستین

مارچ ۲۰۱۳

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په اړه

د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد په کابل کې میشته یوه خپلواکه څیړنیزه موسسه ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالې درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څیړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومثبتې اغیزې دي، او همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څیړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه ، د څیړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره له خپلو څیړنو او کتابتون څخه د ګټې اخیستنې د ترویج په موخه له پالیسي جوړوونکو ، مدني ټولنې، څیړونکو او زده کوونکو سره ددوی د څیړنیزې وړتیا د پیاوړې کولو په موخه ښکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو ، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې بنسټ (AREU) په ۲۰۰۲ کال کې په افغانستان کې د نړیوالې مرستندویې ټولنې په همکارۍ جوړ شو. دغه بنسټ د مشرتابه یو بورډ لري چې د مرستندویو ادارو ، لکه: ملګرو ملتونو او نورو ګڼ اړخیزو ادارو او نادولتي ټولنو استازي پکې ګډون لري. AREU او سمهال د خپلو مرستو ډېره برخه د فیلنینډ له سفارته، د سویډن د بهرنۍ پرمختیا د مرستندویه ادارې (SIDA) او د پرمختیا او همکارۍ لپاره د سویس له ادارې (SDC) څخه تر لاسه کوي.

په ۲۰۱۴ کال کې د دغه بنسټ د ځانګړو پروژو ملاتړ د اروپایي کمېسیون (EC)، د پرمختیا او همکارۍ لپاره د سوېس ادارې (SDC)، د نړیوال پرمختګ انستیټیوټ (ODI)، د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې (UNDP)، نړیوال بانک، د منځنۍ اسیا پوهنتون (UCA)، د امریکا د سولې انسټیټیوټ (USIP)، د نړیوالې همکارۍ لپاره الماني ټولنې، (GIZ GmbH) او د فینلنډ د سفارت لخوا تر سره کېږي.

**دغه څیرنه د اروپايي اتحادیې په مالي مرسته جوړشوی دی. ریپوټ متن یوازې د افغانستان د څیړنې او ارزونې د واحد (AREU) مسئوولیت دی او په هیڅ توګه د اروپا د اتحادیې د موقف څرګندوی نه ګڼل کیږي.**

# خلاصه

په داسې حال کې چې د بلخ او بدخشان د جغرافيايي، ټولنيز، سياسي او تاريخي جوړښت له پلوه ډېر توپير سره لري داسې فکتور موندل ګران دي چې په راتلونکي کې د هغه له مخې په دغو ولايتونو کې د کوکنارو کرکيله تر پام وړ کچې کمه شي. په بلخ کې چې د زور له امله د کوکنارو کرکيله يو څه کمه شوه په اوږد مهال کې پاېښت نه لري ځکه چې هلته دا کار اقتصادي شرايطو ته په پام سره د کليوال اقتصاد خلاف دی. په بدخشان کې زړه نا زړه زور ناانډوله پايلې لرلې.د ۲۰۱۴ کال د امنيت بدلون په رڼا کې دا پوښتنه لا شته چې افغان حکومت او نړيوال ملګري به يې چې په نورو مسايلو کې ښکېل دي ( لکه امنيت ، د ولسمشرۍ ټاکنې ) دا لېوالتيا ولري چې د زور ګامونو ته دوام ورکړي، په تېره بيا داسې حال کې چې دوی پر ځايي مامورينو او خلکو فشار ته اړتيا لري او هغوی ښايي خپلې بېلا بېلې اجنداوې ولري.

د بزګرانو د کورنيو په کچه د ۲۰۱۲ کال په می کې چې د بلخ په دوو ولسواليو ( چمتال او بولک ) کې او د بدخشان ( جرم او خاش ) کې څېړنه وشوه چې د کوکنارو د کرکيلې مخينه يې لرله دا څرګنده شوه چې د اپيمو په اقتصاد کې بېلا بېل بدلېدونکي اړخونه شته. په بلخ کې شننې تائيد کړه چې د دولت حضور او د کوکنارو د کرکيلې په زور ځپل او د نا امنۍ او کوکنار کرلو ترمنځ اړيکې شته او هلته کوکنارو کرل شوي چې حکومت ورته لاس رسی نه لري. په ۲۰۰۷ کال کې له « کوکنارو پاک» ګڼلې نوم بلخ بيا وساته خو د څرګندولو په باب يې پوښتنې هم پيدا شوې ځکه چې په هغو نا امنو سيمو کې چې کوکنار کرل کېږي معلومات لږ له خپلواکو سرچينو يا د کره کېدو وړ معلومات ترلاسه کېدای شي. په بلخ کې دوه اړخه ستونزه ده او تر يوه ځايه په هغو سيمو کې چې کوکنار کرل کېږي نا امني د هغه فشار او خوابدۍ له امله ده چې د دغې کرکيلې له ځپلو پيدا شوې. د امنيت ښه کېدو دليل د ځايي پوليسو ( چې پخوا اربکي بلل کېدل) ځای پر ځای کېدل و چې د کوکنارو ځپلو سره يې هم مرسته وکړه خو خلک ډاډه نه دي چې دغه امنيتي اغېز به پاتې شي او دوی اندېښنې لري چې اربکي به څه ډول رول ولوبوي، پر دوی دا تور هم دی چې د کوکنارو په کرکيله کې لاس لري.

په بدخشان کې شننې د خلکو له لوري د کوکنارو د کرکيلې پرېکړه د هغوی له مالي ستونزو سره تړلې ( د پور پرې کولو او د شتمنيو خرڅلاو په شمول ) چې د ۲۰۱۱-۱۲ کال اوږده او سخت ژمي پرې راوستې او د تېرو کلونو تجربه هم وه چې د کوکنارو د پاکول اعتباري ګواښ نه و. له هغو چې په سروې کې ترې پوښتنې شوې وې ، د هغو کسانو شمېر يو په دوه شوی وه چې تېر کال يې کوکنار کرلي وو او د کوکنارو د کر مځکه له څلورو لس سلنوو ته پورته شوې وه. د بلخ پرخلاف چې يو پياړوی مشر په کې دی او هغه د ولايت په ډېرو برخو کې د کوکنارو اړولو ته هم هوډ لري او هم د زور کارولو توان، په بدخشان کې واک ډېر پر ځايي قومندانانو او واک لرونکو سره وېشلی چې د کوکنارو له اړولو ، قاچاق او ناقانونه فعاليتونو سره ډېره دلچسپي نه ښيي. د ۲۰۱۲ کال په ترڅ کې له اټکل سره سم په بدخشان کې د کوکنارو د کر مځکه ۱۳ سلنه ډېره شوې وه چې ورسره دا ولايت د د دغه کر د کچې په حساب د « لړ» پر ځای « منځوي» ته وخوت. دغه راز د بلخ خلاف چې هلته تر ډېره په دوو ولسواليو پورې د کوکنارو کرکيله محدوده ده دلته د ۲۲ ولسواليو په لروبر کې خپره ده. د بدخشان غرنۍ جغرافيې او د مځکې کمښت ته په پام سره دا ربوټ ( ساحه کې تر کار وروسته ) چې ظاهرا د کوکنارو د ختمولو لا قوي کار کېږي دا پوښتنې راولاړوي چې چارواکي پر خلکو خپله خوښه تر پخوا په لا شدت تپي او که همداسې وي نو د ځايي واک لرونکو ولسونو غبرګون به ورته څه وي.

که څه هم د ۲۰۱۲ کال پسرلي کې تر ورم کال د کرهنې لپاره شرایط ډېر ښه و ، شننه ښيي چې له بزګرۍ دباندې عاید د کورنیو لپاره ډېر مهم وو. په بلخ کې کار او معاش و په تېره بیا مزار شریف کې ( د بلخ ولایت مرکز ) کې تر ورم کال چې وچکالي په کې وه، خورا ډېر و. په همدې ترخ کې په بدخشان کې کار موندل ځکه ګران و چې د ودانیزو چارو موسم کې ځنډ راغلی و. په دواړو ولایتونو کې بزګرو کورنیو، کارګرانو او دوکاندارانو د "ښو پخوانیو ورځو" ارمان کاوه هغه وخت چې د اپیمو د تولید او کاروبار له امله اقتصاد غوړېدلی و. په داسې حال کې چې بدخشان لا هم د مخدره توکو د لېږد لار ده خو دا کار هغومره پراخ عاید نه کوي چې د ۲۰۰۰ مو کلونو په نیمایي کې پراخې کرکیلې کړی و. په بدخشان کې د پوښتل شویو کورنیو ډېرې برخې د ورځې په دوه امریکایي ډالره ګوزاره کوله او یوازې په څلورو کې یوه یې له خپل تولیده د کور غله پوره کوله.

پر واک لرونکو او د واک غوښتونکو وارد مخه ډېر فشار دی چې په ځايي کچه معاملې وکړي چې یوه سیمه یا سرچینې کنترول کړي او یا به د هغو ملي تګلارو په وړاندې د څه کولو لېوالتیا نه لري چې د ځایي ګټو خلاف وي او داسې باور دی چې دوی له ۲۰۱۴ کال نه وروسته بې ثباتۍ ته ځانونه چمتو کوي. په بلخ کې، د پیاوړې ولایتي اداري په مټ نه یوازې د کوکنارو د ختمولو په برخه کې بلکې د اقتصادي پرمختګ په حساب هم نورو ته بېلګه وګرځېده، له کابل او نړیوالې ټولنې د ټینګار له اوښتو ښايي داسې سیاسي لېوالتیا کمه کړي چې تر اوسه یې پرې د خلکو له خوښې پرته هم پرې تګلارې پلې کولی شوې. له هیلو سره سم د نړیوالې پانګونې له ورکېدو او کمېدو او د ځایي پانګولو د ډاډ له کمېدو سره د ملي اقتصاد کمزوري کیدل ښایي هم د کورنیو لپاره د عاید موقعې کمې کړي او هم واک لرونکو ته مالي ملاتړ ختم کړي. وروستۍ خبره دا چې له کرهنې دباندې ډېر خلک پر نور عاید تکیه کوي د کوکنارو د ویجاړولو پر چارې یو څه اسانتیا ښایي د اقتصاد د کمزورۍ او په سیمه کې د کار په تړاو د کډوالۍ د موقعو کمښت هم په پام کې ونیول شي. دا چې اوس امنیتي حالت په یوه ناڅرګند حالت کې دی د کوکنارو د کر کمولو هڅه په تېره بیا په بې ثباته او یا له سیالۍ ډک چاپېریال کې ښايي یا ګرانه وي او یا یې ساتل تر پخوا مشکل وي.

## خلاصه او پایلې

په ۲۰۱۱-۱۲ کال کې د ورم کال په پرتله د افغان حکومت له لورې په ویجاړو شویو مځکو کې د ۱۵۴٪ زیاتوالي په سر هم په افغانستان کې د یو کال مخته په پرتله د هغو مځکو کچه ۱۸سلنه ډېره شوې وه چې کوکنار پرې کرل شوي وو. د بلخ ولایت به د «له کوکنارو پاک» نوم چې په ۲۰۰۷ کال کې یې ګټلی و بیا هم وساتي حال دا چې د کرکیلې په ځینو سیمو کې د امنیت وضعیت په خپلواک ډول د دې خبرې تایید ګرانوي. په دوو یا درو ولسوالیو کې لږ تر لږه په ځینو مځکو د کوکنارو شته والی تر ډېره منل شوی او پر څومره والي یې بېلا بېل معلومات دي. په بدخشان کې د کوکنارو د کر مځکه ۱۳ سلنه ډېره شوې ده او دغه ولایت به اوس «تر یوه ځایه» د کوکنارو تولېدوونکی ګڼل کېږي.

د بلخ او بدخشان ولایتونه له جغرافیایي، اقتصادي او سیاسي پلوه ډېر سره توپیر لري، په یوه حساب همدې حالت پر هغو شرایطو اغېز کړی چې د کوکنارو پر کرکیلې اثر کوي او د دوی د کمېدو او ختمېدو سبب کېږي. په ځینو حسابونو دا د جغرافیایي جوړښت دلیل دی. بلخ ډېرې ګڼ مېشتې سیمې هوارې او ښېرازې دي، سړکونه یې ولایتي مرکز، نورو ځایونو او د کارګرو بازار ته ښه دي. برعکس د بدخشان اوسېدونکي بیا په پراخه سیمه کی پراته دي چې غرنۍ سیمې سره جلا کړي، یوازې په خرابو سړکونو سره وصل دي او نا اټکلېدونکې هوا لري.

له دې سربېره  په دواړو ولایتونو کې د سیاست تاریخ ( چې جغرافیې پرې اغېز لرلی ) د کوکنارو د کرکیلې پر شرایطو اغېز لرلی دی. له ۲۰۰۴ کال راهیسته د بلخ ولایت د یوه برلاسي کس له خوا اداره شوی دی هغه تر ډېره د دولت جوړولو  هوډ تعقیب کړی او دا توان یې لرلی چې خپله غوښتنه د ولایت پر ډېرو برخو ومني. بل لور په بدخشان کې دغه ډول برلاسی کس نشته ، ځايي قومندانان او واک لرونکي پر  واک سیالي سره کوي او سره ویشلی دی.د ۲۰۱۱ کال په سپتمبر کې د برهان الدین رباني وژنه چې د دغه ولایت تر ټولو لوی سیاسي شخصیت و ، د واک په سرلانجې او د سیاسي او اقتصادي شتمنیو لپاره سیالۍ لکه په کوکنارو ، معدنونو او قاچاق لا ډېرې کړې. اصلاد ده په ژوند کې لا پر دغه ولایت د ده د کنترول بڼې او اغېز ډېر نا یووالي او نا قانونۍ ته لا پرانیسته. په بدخشان کې سیاسي او امنیتي ځواکونه که څه هم تر ډېره د رباني او د نورو جمعیتي سیاستوالو په لاس کې دي او دې شبکې په ټول ولایت کې جمعیت ته ګټه رسولې خو بیا هم، د سارې په توګه له هغو عناصرو سره چې له  پنجشیر سره تړلي لکه د مارشال فهیم ملاتړې څانګه، د واک په سر شخړه وه.

په دواړو ولایتونو کې  له کابل څخه د ځايي څوکیو د ټاکنو له لارې د ملاتړ او معافۍ په ډول سیاسي واک پیاړوی کېدای شي. په بلخ کې د عطا له چلند سره سم چې تر ډېره د مرکزي حکومت تګلاره تعقیبوي داسې لږ قومندانان شته چې په ناقانونه فعالیتونو کې یې ښکاره لاس لرل ساتلي وي. په بدخشان کې دې ته ورته لږې موقعې شته (د نړیوالو له حضور سره په تړاو د قراردادونو او نورو اقتصادي فعالیتونو په ګډون) نو قومندانان او واک لرونکي لا هم د مخدره توکو په قاچاق او نورو ناقانونه فعالیتونو کې ښکېل پاتې شوي دي.

د دواړو ولایتونو په هغو دوو ولسوالیو کې چې اوس یا پخوا په کې د کوکنارو کرکیله لیدل شوې وه دا نتیجه ورکړه چې تر ډېره هغه لوی تصویر لا تاییدوي. په څېړنه کې برخه والې هغه کورنۍ چې په بلخ کې وې د بدخشان تر کورنیو له اقتصادي پلوه ښې وې، د بدخشان اوسېدونکو تر ډېره له کرهنې دباندې عاید باندې تکیه کوله. په بدخشان کې له سروې شویو ۳۰ کورنیو څخه ۲۲ د ورځې په دوو امریکایي ډالرو یا تر هغو هم لږو ګوزاره کوله. په دواړو سیمو کې د وړم کال په پرتله د کرهنې شرایط ډېر ښه و ، هغه کال وچکالي د افغانستان شمال ډېر اغېزمن کړی و او بد ژمي بدخشان ځپلی و. دبدخشاني کورنیو ویل چې بد ژمي ډېر پور اخیستو او یا یې د خپلو شتمني خرڅلاو ته اړ کړل چې خپلو څارویو ته خواړه واخلي خو په ځینو مواردو کې یې څاروي حلال کړل. په دواړو سیمو کې بزګرنو د غنمو پر ځای نورو ګران بیه کروندو ، په بلخ کې پنبې یا مالوچو ته او په بدخشان کې کوکنارو ته  مخه کړه.  په بدخشان کې د هغو کورنیو چې کوکنار یې کرل له لسو شلو ته یو په دوه پورته شوه او د کوکنارو لپاره جلا شوې زراعتي مځکه هم له څلورو لس سلنې ته زیاته شوه.

په بلخ کې د ښو زراعتي شرایطو سربېره کارګرانو ویل چې په ۲۰۱۲ کال کې د کار موقع خورا زیاتې وې او معاشونه هم لوړ وو دا د دې ښکارندویې کوي چې مزار شریف لا هم د عادي او نیمچه مسلکي  کارګرو لپاره ښه ځای و. بل پلو په بدخشان کې کارګرو ویل چې د اوږده ژمي له امله د کارګرو اړتیا ځنډول شوې وه او دا څرګنده نه وه چې تر کومه ځایه به دا اغېز ولري.  په دواړو ولایتونو کې کارګرانو  د « ښو پخوانیو ورځو» ارمان کاوه چې کوکنارو په کې اقتصاد غوړولی و او له بزګرۍ ورها خوا یې کارګرو ، دوکاندارانو او نورو سوداګرو ته عاید پیدا کړی و.په داسې حال کې چې بدخشان لا هم د مخدره توکو د قاچاق لاره ګڼل کېږي خو دا فعالیت هغومره  عاید نه تولیدوي چې د ۲۰۰۰ مو کلونو په نیمایي کې د کوکنارو پراخې کرهنې تولیداوه.

په بلخ کې د کوکنارو کرکیله لا هم په هغو سیمو کې وه چې د لا ډېرې نا امنۍ سره تړلې وه او دا هغه ځای و چې د حکومت واک په کې نه و. له دود شوي نظر سره سم د کوکنارو کرکیله چې چیرې وي ناامني ورپسې ورځي خو باید دې ته هم پام وشي چې دا کار یو طرفه نه دی بلکې دواړو غاړو ته ممکن دی او شایي لږ تر لږه ځینې نا امنۍ د کوکنارو د ځپلو له امله د پیدا شوي ژور خپګان اوغصې سره تړاو ولري.

په بدخشان کې د کوکنارو کرکیله د ولایت په ۲۲ ولسوالیو کې تر ډېره خپره ده. د ښېړنې په سیمو کې د کوکنارو کرکیله له هغه اقتصادي تاوان سره تړلې وه چې بد ژمي او د کروندو د ویجاړولو د باوري ګوابښ کموالی یې پیدا کړی و.په بدخشان کې چې کومې کورنۍ کوکنار کري هغوی یې د خپلو پورونو د پرې کولو او تر ډېره د اقتصادي حالت په ښه کولو پورې تړي. په دواړو ولایتونو کې په څېړنه کې برخه والو ویلي چې د کار د موقعو نشتوالی د کوکنارو کرهنې ته هڅولې خو دا ښایي یوازې دلیل نه بلکې د خپل کړي عمل پلمه هم وي. که څه هم برخه والو وویل چې د حکومت داسې پروګرام و چې د کوکنارو د نه کرلو په بدل کې یې پرې غنم او وریجې د تاوان په توګه ورکولې خو دغه کار دومره بې اغېزې بلل شوی و چې د خندا وړ یې باله. لنډه دا چې د بدخشان په څېړل شوې سیمه کې د کوکنارو کرکیله لا هم د کورنیو د عاید اصلي برخه ده ځکه چې ګټه یې تر نورو بدیلو فصلونو ډېره ده او د ویجاړولو باوري ګوابښ ورته نشته. په ځانګړې توګه په ۲۰۱۲ کال کې کورنیو د پورونو د خلاصون لاره د کوکنارو کرکیله بلله او دغه پورونه د بد ژمي له کبله ورپیدا شوي وو.

په ولایتي کچه که څه هم بلخ له « کوکنارو پاک» دریځ خپل کړ خو د کوکنارو د شته والي خپلواکو رپوټونو د هغې کچې په باب پوښتنې پیدا کړې چې دغه دریځ پرې ورکړل شوی و. بلخ یوازې د کوکنارو د له منځه وړلو له امله د بریالۍ بېلګې په توګه ونه ستایل شو بلکې د یوې پیاوړې ولایتي ادارې په مشرۍ د لا پراخ اقتصادي پرمختګ له کبله هم وستایل شو. که بلخ له « کوکنارو پاک» دریځه راولوېد دا به یوازې له مخدره توکو سره د مبارزې په برخه کې نه بلکې لا پراخې ساحې کې هم انګازه وکړي. په همدې دلیل په ولایتي اداره ، د کابل په حکومت او نړیوالې ټولنې کې پیاوړې لېوالیتا او ګټه همدا ده چې بلخ له «کوکنارو پاک» وساتل شی. واک لرونکي په دې کې هم ډېره دلچسپي لري چې سمبولیکه بریا په ځانګړې توګه دوامداره وښيي. څوک ښایي دا استدلال هم وکړي چې د ولایت د نفوس ډېره برخه هم ښایي په دې کې ګټه ووینې ځکه چې د ولایت په باب نظر د اوسني ښه حالت په باب ډاډ ښایي خراب کړي.

د حکومت او یو این او ډي سي د دې نظر چې په بدخشان کې د کوکنارو د کرل شویو ځمکو ۴۸ سلنه ویجاړه شوې، بېلا بېلې پوښتنې پیدا کړې دي او هغه دا چې دا د نورو هېوادو په پرتله چې شپږ سلنه وه خورا لوړ شمېر دی او د ۲۰۱۰-۱۱ کال د فیصدو په پرتله څلور ځله ډېره ده. له رسمي شمېرو ور هاخوا مرکې او فصلونه دا ښيي چې په جرم ولسوالۍ کې وړم کال د کوکنارو د نه ویجاړولو له امله کورنیو کوکنار کرل او په خاش ولسوالۍ کې له ویجاړولو سره سره بیا هم خلکو وکرل. په بدخشان کې د ۲۰۱۱-۱۲ کال په ترڅ کې د کوکنارو ډېرېدل په داسې چاپېریال کې وشو چې په دغه ولایت کې د سیاسي او اقتصادي ګټو لپاره د یوه برلاسي مشرتابه په نشتوالي کې سیالۍ رواني وې او د هوډ او توان نشتوالی هم په کې ښکارېده. که د ویجاړو شویو کروندو شمېره دقیقه وي نو دا له پخوا سره لوی توپیر لري، د دې څرګندول به په زړه پورې وي چې ایا دا د چارواکو هوډمنه هڅه ده چې د بدخشان پر ولسوالیو داسې واک وچلوي چې تر اوسه نه دی لیدل شوی که څرنګه. تر اوسه پورې تر ډېره زړه نا زړه او لږ پیاړی ګام اخیستل شوی چې د ځایي واک لرونکو په شته والي او د بلخ خلاف د پیاړوي او برلاسي مشرتابه په نشتوالي کې حقیقت دی. د بلخ تجربه ښایي دا خطر هم وښیي چې د بدیل په نشتوالي کې فشار خطر لري.

## راتلونکي ته کتنه

که څه هم د تګلارو په اجندا کې مخدره توکو اهمیت له لاسه ورکړی، د ۲۰۱۴ کال له بدلون سره په تړاو چارو د سیاسي اقتصاد ډېرې برخې اغېزمنې کړي نو په همدې دلیل داسې نه ښکاري چې همدا حالت دې تر ډېره پاتې شي. په ګڼو بې ځوابه پوښتنو کې یوه دا ده چې افغان حکومت به دا لېوالتیا او لارې چارې ولري چې د خلکو د خوښې خلاف د زور داسې ګام واخلي چې د مخدره توکو د تګلارې عملي کولو کې لیدل شوي او کله نا کله خپله له تګلارو سره په تناقض کې وو (د سارې په توګه د ویجاړونې وخت او ځای چې د پاڼبنت ډاډ یې ورکاوه).

په داسې حال کې چې د بلخ او بدخشان شرایط ډېر سره توپیر لري، دم ګړۍ داسې کوم دلیل نه لیدل کېږي چې په دې دواړو ولایتونو کې دې په راتلونکي کې د کوکنارو کرکیله کمه شي. هغه زور چې د کوکنارو د ویجاړولو لپاره کارېدلی ګران دی چې په یوه بې ثباته\ او یا له سیالۍ ډک چاپېریال او یا د ګڼو خواوو له لورې کنټرولېدونکي ځای کې وساتل شي. په همدې دلیل د دولت د توان له کمښت سره د کوکنارو کرکیله ښایي ډېره شي. دا په دې مانا نه ده چې دغه سیمې د دولت له منګولو وتلي . بلکې له لویه سره د ثبات ساتل به ځایي او ملي چارواکي اړ باسي چې پټې یا ښکاره له ځایي واک لرونکو سره معاملې وکړي. که په یو نه یو ډول د بلخ ولایت کنټرول په یو څه لږ متحد ډول ترسره شي نو دا اټکل ګران نه دی چې د وېشل شوي حالت اغېز به په ځایي کچه د ممکنه سیالیو له امله څه وي. داسې شواهد شته چې دغه ډول واک لرونکو (د سارې په توګه په بدخشان کې زلمی خان) له ۲۰۱۴ کال وروسته بې ثباتیو ته چمتووالی پیل کړی دی. که یې نیت هر څه وي دا امکان ډېر دی چې حکومت ( او نړیواله ټولنه) به په نورو مسایلو بوخت وي او په همدې دلیل به پر ځایي چارواکو او ولسونو هغه پرله پسې فشار رانه وستلی شي چې د خلکو له خوښې خلاف پروګرامونه وزغمي. په بدخشان کې تر اوسه داسې هوډ دی او "ښو چارواکیو" ته په ولسوالیو کې اوسېدل ګران دي.د شمال په لروبر کې د ډېرو نړیوالو پوځي اډو له تړلو سره او په مارمل کمپ کې د کسانو راټولېدل د لا کمو تېروتنو ( یا د تېروتنو د ګواښ) امکان شته. دا هم د پام وړ ده چې د ۱۴-۲۰۱۳ کال د کرکیلې موسم د ولسمشرۍ له ټاکنو سره په یوه وخت پیلېږي. که څه هم د بلخ په دوو ولسوالیو کې د اربکیو ځای پر ځای کولو امنیت ښه کړی، چې ورسره د کوکنارو د ځپلو لپاره د حکومت حضور ساتي، خو خلک ډاډه نه دي چې دغه امنیتي اغېز به وپایي. سربېره پر دې داسې اندېښنې هم شته چې اربکي ښایي یا مخامخ په بې ثباتۍ کې لاس ولري او یا د بې ثباتۍ د مخنیوي لپاره خپله بیه وټاکي. داسې تورونه هم شته چې اربکي خپله د کوکنارو په کرکیله کې لاس لري.

وروستۍ خبره دا چې په دواړو ولایتونو کې کورنۍ له بزګرۍ دباندې عاید باندې تکیه کوي چې یا یې نژدې مومي او یا هم لیرې کډه ورته کوي. خو اټکل شوی حالت دا دی چې د قراردادونو او د نړیوالو ملکي او پوځي لګښتونو په مټ اقتصاد ته پوکل شوې ساه ښایي ورو ورو مخ په کمېدو وي. د ډېرو سناریوګانو په حساب د ۲۰۱۴ کال بدلون ښایي په افغانستان کې دننه له بزګرۍ دباندې د کار موقعې کمې کړي چې په دواړو ولایتونو کې مهمې وې، دغه راز به د مالي مرستو ډېرې سرچینې هم وچې کړي. په همدې دلیل د کوکنارو پر کرکیلې د فشار کمېدل ښایي د مزار د اقتصاد له کمزوري کېدا سره په تله برابر وي، د مزار د اقتصاد قوت د ډېرو په ګومان د هغو تګلارو عملي کولو ته اجازه ورکړه چې د ډېرو په ګومان بې له هغې یې ښایي د خلکو عاید او اقتصاد ته تاوان اړولی وای. ایران ته کډوالي هم اوس هغومره دلچسپه نه ښکاري ځکه چې هلته پر افغان کډوالو قیود ډېر شوي او د ایراني پیسې ارزښت هم تر ډېره د لویدیځ د اقتصادي بندیزونو له امله لویدلی دی.

# دڅرګندونولپاره‌ستاسي‌غوښتنې

دافغانستان‌دڅیړنې‌اوارزونې‌اداره‌ډیرعلاقه‌لري‌چې‌ستاسوڅخه‌واوري.په‌هرصورت‌که‌تاسی‌د‌دی‌اداریې‌خپر ونولوستونکی‌یاست،یاموداافغانستان‌دڅیړنې‌اوارزونې‌اداره‌کې‌په‌لکچریاورکشاب‌کې‌ګډون‌کړی‌وی،یامو له‌کتابتون‌څخه‌استفاده‌کړی‌وی،یامول‌ه‌اداري‌له‌کارونواوڅیړنوسره‌اشنایی‌پیداکړی‌وی،ستاسي‌څرکندونې اوغوښتنې‌زمونږلپاره‌ډیرارزښت‌وړدی،ستاسي‌وړاندیزونه‌له‌مونږسره‌مرسته‌کوی‌ترڅوخپل‌هدف‌په‌ښه‌توګه تعقیب‌اودخپلوکارونولاسته‌راوړنې‌په‌ښه‌څیرله‌خپلوخپرونولوستونکوسره‌شریکې‌کړو.

ترټولواسانه‌لاردڅرګندونولپاره‌ستاسي‌غوښتنې‌دبرښنالیک‌له‌لاری areu@areu.org.af همدارنګه‌تاسي‌کولای چې‌له‌مونږسره‌په‌اړیکه‌کې‌شي ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹(۰) ۹۳ +

- تا سي په خپلو ا تو ګه نظر و ر کو لا ی شئ ، ا ما ستا سی ځو ا بو نه ا و معلو ما ت په دی‌اړه‌زمونږلپاره‌ډیرارزښناک تمامیږی
- له‌دی‌اداري‌اوددی‌اداری‌له‌څیړنوسره‌څنګه‌اشناشوئ(دخپرونوله‌لاری،یاددی‌اداری
- په‌غونډ‌ډویامجلسونوکې دګډون‌له‌لاری)
- دافغانستان‌دڅیړنې‌اوارزونې‌داداري‌له‌څیړنودڅه‌لپاره‌استفاده‌کوئ
- دافغانستان‌دڅیړنې‌اوارزونې‌داداري‌څیړنې‌څنګه‌ترلاسه‌کوئ
- آیاله‌خپرونونه‌په‌برښنایې‌یاچاپی‌توګه‌استفاده کوئ
- دخپرونومعلومات‌تاسوته څه دول وړاندی‌شي
- ستاسووړاندیزنه‌ددی‌اداری‌دڅیړنوپه‌اړه‌څه‌شی‌دی
- دافغانستان‌دڅیړنې‌اوارزونبود واحد کومه خپرونه یا پیښنه تاسوته په زړه پوری ده؟
- ستاسي‌په‌باورپه‌کوموموارد‌وکې‌زمونږکارونه‌ګټورتمامیږی
- علاقه،ددندی‌ساحه‌اویاستاسی‌دمطالعی‌ځای

ښه څېړنې د ښه
افغانستان
لپاره

AREU

۱۲ کاله
باکیفیته څېړنه


**افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره**

دحاجي یعقوب له څلور لارې څخه د شهید د
څلورلارې په لور، کین اړخ ته دریمه کوڅه، ۱۴۴
کور، نوی ښار، کابل، افغانستان

تیلفون: ‎+۹۳(۰)۷۹۹ ۶۰۸ ۵۴۸

بریښنالیک: publications@areu.org.af

ویب پاڼه: www.areu.org.af


ټولې خپرونې په دغه پاڼه کې د راښکته کولو لپاره www.areu.org.af لاس ته راوړې شي.

په کابل کې ددغه ادارې په دفتر کې چاپ شوې کاپیانې هم موجودې دي.